مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۰۶/۲۴

# امانت

**دا څو بیته مي د رنځور دوست فرید میوندي سره تر تیلفوني پوښتني وروسته ولیکل.**

(هوتک)

نن مـي لـه لیري واورېدې د یـو زلـمي خبري
د اوږده رنـــځ د کـــړاوو د بستـــري خبري

د خپل محب، د خپل مخلص، د خپل همراز ملګري
د خـپـل فـرید میونـدي په زړه زخـمـي خبري

د نـامــرادی، د پــردېسی پــه تـبغ تـپي ژبـه ئي
راتــه کـولي پـه ارمان، څـو په زګـېروي خبري

د زړه لــه تـلـه ئي پـه ماتـه ګـنګوره ژبـه وې:
چي پـه تـاریخ کي بـه لیکي، زما د زړګي خبري

اصلي ژونـدون مي د وطـن عشق، د وطـن مینه ده
دا نـور ژونـدون مـی ګـویـا دئ، عـاریتي خبري

پـه حسرتـونـو مـي سلام واخیـست لـه اوښکو سره
د زړه پـر پـاڼـه مي کـړي ثـبـت، دا تاریخي خبري

دغـه پـیغـام بـي رسـومـه د تــاریـخ پـر څـپو
د خپل وطـن د عشق پـه اور، د دې ستي خبري

آشاوا, کانادا
23 مه د جون 2020 ع


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځیر و لولـئ